حفیظ الله خالد

تاریخ : ۳۰ اگست ۲۰۱۵



# ای د وطن قاصده!

ای د وطن قاصده جاردی شمه
بس کړه نورماته د جنګوخبرې
د اعدامونواو پـــانـــسو خـــبرې
د ځان وژنې او مـــرګـــو خـــبرې
هـــرخـــوا د وینـــی بهیـــدوخبـــری
د مکتـــبو د ســـوزیـــدو خـــبری

زه د وطن حالت ځپلی یمه
له خپلی مینئ یی شړلی یمه
په پـــردیسی دلته راغلئ یمه
غم د وطن په زړه ویشتلی یمه
د وطـــن حال زه کړولې یمه
زه دی خبرو،نه نورستړئ یمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ماته پیغام د ورورګلوئ راوړه
خبرد سولې او ورورئ راوړه
د وطن بڼ نه ګل غوټئ راوړه
ما ته شمشاد دغرونو بوئ راوړه
زیرې د مینې اودوستئ راوړه
یـــو نیم خـــبرد آبـــادئ راوړه

ای د وطن قاصده جاردی شمه
ترڅـو به اورم دا کـګی خـبری
د خپل ولـــس د جنازی خـبری
زغملئ نشـــم دا ترخې خبری
ماته لږ راوړه نورخوږې خبری
د ســولی امــن او جرګی خبری

ای د وطن قاصده جاردی شمه
ماته د مینی پیــغامـونه راوړه
د سـولئ امن خبرونه راوړه
د ګران وطن د بڼ ګلونه راوړه
د خالد زړه ته امیدونه راوړه
له کابل جانه سـلامونه راوړه
* **

ح خالد

۸ / ۲ /۲۰۰۹ / ویانا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ